مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی

۲۰۲۵/۰۱/۱۲

# د لاس انجلس د اور لمبې او د ځواکمنو بېوسي

د څلور نیم میلیونه نفوس په درلودلو سره، لاس انجلس له نیویارک څخه وروسته د امریکا د متحدو ایالتونو دوهم او د کلېفورنیا لومړنی ستر ښار دی. البته که د نښتو وړو ښارګوټو وګړي ورسره وشمارل شي چې میټرو پالټن بلل کېږي، نو بیا یې نفوس لس نیم میلیونو ته رسي. د لاس انجلس ښار د ۲۰۲۴م کال بودیجه دیارلس میلیارده ډالره وه چې د افغانستان له ټولې کلنۍ بودیجې څخه څلور چنده زیاته ده.

د متحدو ایالتونو څلورم مصروف ترین هوایي ډګر (LAX) په لاس انجلس کې دی چې تیرکال ۷۵ میلیونه بهرنیو او کورنیو مسافرو له دې لارې تګ راتګ کړیدی. دې ښار ته هره ورځ په منځني ډول، پنځه میلیونه خلک د کار، سیاحت او سود سودا لپاره راځي او د شپې بېرته کورونو ته ستنیږي. د کلېفورنیا ایالت چې مجموعي نفوس یې ۳۹ میلیونه دی، ۵۸ ولسوالۍ لري او د لاس انجلس ولسوالي یې ترټولو ګڼ نفوسه ده. کلېفورنیا د امریکا، چین، جرمني او جاپان پسې د نړۍ پنځم اقتصادي ځواک او د اپیل، ګوګل، فېسبوک، اکس، مایکرو سافټ او د ګڼ شمېر رسنیو او ټکنالوژیو کوربه ایالت دی.

د لاس انجلس په دنګو غونډیو او شنو درو کې د سې شنبې په ورځ (جنوري ۷) لګیدلي اور، تر دې ګړۍ ۳۶ زره ایکړه (۷۰ زره جریبه) مځکه پخپلو لمبو کې ایره ایره کړېده. د LA Times، الجزیرې او نورو سیمه ایزو چېنلونو د معلوماتو له مخې، تر اوسه ۱۳ کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړی، څه باندې لس زره کورونه او ودانۍ پوره یا نیمایي سوځیدلې او له یولک او ۵۵ زرو څخه زیات خلک بې کوره شویدي. بربېښنا پرې شوې، مکتبونه، دفترونه، بانکونه او روغتیایي کلېنیکونه په کنډوالو بدل شوي او خلک د سپورتي لوبو په مرکزونو کې ځای په ځای شویدي. تر ټولو زیاته زیانمنه سیمه Palisades او بله د Malibu ساحلي ښارګوټې دی چې د آرام سمندر د رڼو او مالګینو په اوبو په غاړې پروت دی.

لاس انجلس یوه هسپانوي کلمه ده چې د ملائکو د ښار په معنا ده، خو دلته د شېطانانو هم ښه پرېماني ده. څو کاله وړاندې، زه او زما درې قدرمند دوستان، اروابښاد ډاکټر نبي مصداق، ډاکټر عبېدالله برهاني او قمرالدين جبارخېل د څه وخت لپاره موږ څلورو واړو د همدې ښار اړونده یوکالج کې درس ورکولو او ډېرې خاطرې مو ورسره تړلې دي. دا ښار د رڼاګانو، ځلاګانو، حلالو رستورانونو او د شنو پارکونو ټاټوبی دی. د یوې اقتصادي سرچینې د اټکل پربسنټ، که همدا شېبه اور مړ شي، نو اوښتی زیان به لږ تر لږه ۱۵۳ میلیارده ډالره وي چې د دې ایالت په تاریخ کې بېسارې دی.

د لاس انجلس په ولسوالۍ کې د مسلمانانو شمېر درې لکه اتیا زره ښودل شوې او دلته له پنځوسو څخه زیات جوماتونه آباد دي. همدا شان دلته ۴۶ کالجونه او ۳۰ دولتي او خصوصي پوهنتونونه شتون لري چې UC LA یې نړیوال شهرت لري. د هالیووډ فلمي ستوډیو چې یوازې په ۲۰۲۳م کال کې یې ۱۳۰۰ سېنمایي او ټلویزیوني فلمونه جوړ کړي، د دې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ایالت د ښکلو هنرونو سمبول ګڼل کیږي. د لاس انجلس سمندري بندر د نړیوالي سوداګرۍ د لنګر او چکر یو مثالي مرکز دی چې د لکونو خلکو کار او روزګار ورپورې تړلی دی.

د لاس انجلس لمبې، غرغرې او د لوګو توري لوخړې د ځینو په باور د طبیعت قهر دی، څوک ورته د الهي عذاب په سترګه ګوري، څوک یې غیبي انتقام بولي، څوک یې د واکمنانو ناغېړي بولي او څوک یې د نړیوال اقلیمي بدلون څپه.
هرڅه چې وي، وي به. خو د متمدنو انسانانو او متعهدو مسلمانانو په توګه، موږ باید د هېڅ چا په درد او زیان خوشحاله نه شو؛ بلکې تر خپلې وسې د همکارۍ لاسونه ورکړو او د ازمېښت په مهال د خواخوږۍ خواږه هېر نه کړو.

------------

پاملرنه: که دوستان وخت او علاقه لري چې د ملکزي نوري مقالې، څېړنې او ویډیوګانې وګوري، نو د هغه فېسبوک او د یوټیوب چېنل ته دې په دې پته ورشي: Wali Malakzay

[د لاس انجلس د اور لمبې او د ځواکمنو بېوسي (ویډیو وګورې)]



[د لیکوال نوري لیکنې په دې لینک کې ولولئ]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ